2020



# ټرانسپورت او ډولونه يې

Ketabton.com

کال : 1399

ليکونکي : نامزد پوهنيار عثمان غني زابلی

پوهنتون: زابل ميرويس خان نيکه د لوړو زده کړو مؤسسه

پوهنځی : اقتصاد


(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

انسان په څمکه کي د الله ج له طرفه یو اشرف المخلوق او د الله ج له لوري خلیفه دي ، انسان ته درناوي د انسانیت له اصولو څخه بولو ، خو دا اصول بیا د اسلام په مبارک دین کي تر ټولو غوره تشریح سوي دي، انسان باید د ژوند چاري په ډیره کامیابی سره سرته ورسوي، یو مسلمان باید په نړي کي د الله ج د فرمانبرداري درلودلو په ویاړ باید د نړي یو پرمختللي انسان وي ، که چیرته ټولنه وي نو یوه پرمختللي ټولنه باید ویاد سي، اقتصاد دانسان په ژ،ند کي یوه مهمه موضوع ده چي باید اقتصادي فعالیتونه ترسره سي، نو انسانان په پاشلي ډول په نړي کي شتون لري ، چي د خپل ضروریاتو درفع کولو لپاره توکو ته ضرورت لري ، د توکو د یوځای څخه بل ځای ته رسولو لپاره ترانسپورت ته ضرورت لري، او ترانسپورت د اقتصاد په مخته وړلو کي مهم لرول لري، په دي کتاب کي پر دي خبري کوو ، چي ترانسپورت په اقتصاد کي څومره مهم دي او همدارنګه دا به هم بیان کړو چي ترانسپورت په کومو طریقو سرته رسیږي، کومه ترانسپورتي وسیله د کوم کار سرته رسولو لپاره غوره ده ؟

**په درنښت**

**عثمان غني زابلي**



(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی فصل

د حمـــــل ونقـــــل وســـــایل:

پــه پخــوا وختونــو کــې د اموالــو پــه انتقــال کــې زيــات مشــکلات موجــود و. ســوداګرو بــه پــه اوښــانو او اســونو او نــورو حيوانــاتو بانــدي اجنــاس او امــوال د يــو ځــای څخــه بــل ځــای تــه انتقــالول .د بحــري کښــتيو او بادبــاني کښــتيو څخــه هــم اســتفاده کولــه .چــي اکــثره وخــت بــه د بــاد لپــاره انتظــار وو .د حمــل او نقــل دغــه وســایل نــه يــوازي دا چــي ډيــر ورو وو ،بلکــه غــيري محفــوظ هــم وو. نــو پــه همــدي وجــه امــوال د يــو ځــای څخــه بــل ځــای تــه پــه اســانۍ سره نسـواي منتقــل کيــدلي .نــو همــدا وجــه وه چــي د نــړۍ هيوادونــو بــه يــو د بــل سره د قحطــي او مصــيبت پــه وخــت کــې هــيڅ مرســته او کومــک نسيـــ کــولاي .مګــر د ســـائنس او تکنــالو ژي پــه پرمختــګ سره نــه يــوازي داجناســو پـــه تـــوليد کــې زيــاتوالی راغــلي، بلکــي دتللــو راتللــو او حمــل او نقــل نــوي نــوي وسايـــل رامــنځ تــه شــول . چــي د حمــل او نقــل پــه ســاحه کــې لــوي بــدلون رامــنځ تــه ســو. پــه اول وختونــو کــې بــه د څــو ســو ميلــو لپــاره بــه پــه ورځـــو ورځـــــو مـــــزل کيـــــدلو .مګــر اوس د حمــل او نقــل دومــره ګړنــدۍ وســيلي ايجــاد شــوي چــي هــم هغــه فاصــلي پــه ډيــر کـــم وخــت (څــو ســاعـــتو ) کــې طـــــي کـــوي .چــي همدغــه د حمــل او نقــل وســيلو ټولــه نــړۍ د يــو کــلي پــه شــکل سره وصــل کـــړي . د حمـــل او نقـــل نـــوي وســـايلو پـــه وجـــه انســـان ددي قابـــل ســـو . چـــي د حـــمل او نـــقـــل پـــه مخـــکي ټـــول خـــنـــډونـــه لـــــه منځـــــه يـــوسي .اوس د توليـــد کوونکــو او مصرــف کوونکــو تــر مــنځ فاصــله لــه منځــه تلــلي کــوم اجنــاس چــي دنــړي پــه هــر هيــواد کــې توليــديږي هغــه ســيمو تــه چــي ضرورت ورتــه وي پــه اســانۍ سره لـــيـــــږدول کيــږي. د همـــدي لپــاره موجــوده دورکـــې د حمـــل او نقـــل وســايل د يـــو هيـــواد پـــه صـــنعت ، تجــارت ، او اقتصادي انکشاف او پرمختګ کې مهم رول اجرا کوي

د غـــوره ترانســـپورټ ځـــانګـــړتيـــاوي:

غـــوره تـــرانسپـورت لانـــدي ځـــــانـــګـــړتـــيـــاوي لـــــري

١- محفــوظ : دحمــل او نقــل د وســايلو يــوه ځانګرتيــا دا ده چــي اجنــاس او امــوال د يــو ځــای څخــه بل ځای ته په اسانۍ او چټکۍ سره رسول کيـږي .

**٢- مســـترح** : د حمـــل او نقـــل وســـايلو دوهمـــه ځانګړينـــه دا ده چـــي انســـانان پـــه ارام او مســـتريح ډول سره ديو ځای څخه بل ځای ته سفر کولي شي او په ستونزو کې کموالی راغلی .

**٣- سرعـــت** : د حمـــل او نقـــل وســـايل نـــه يـــوازي دا چـــي محفـــوظ وي بلکـــي تيـــز رفتار(بـــا سرعتـــه) بايـــد هـــم وي پـــه موجـــوده وخـــت کـــې زيـــات اهميـــت لـــري نـــو ددي لپـــاره ضروري ده چـــي د اموالـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اجناسو د انتقال په تیزۍ او سرعت سره صورت ونیسي .چې دا د تجارت پراختیا لپاره ضروري دي.

**٤-ارزان :** د حمل او نقل وسایلو یو خاصیت دا دي چې باید ډیر ارزان وي چې مستهلکینو ته تولید شوي اموال او اجناس په کم قیمت سره ورسیږي چې مستهلکینو ته د اجناسو په بیه کې یوه بله ځانګړنه بلل کیږي.

**٥-هر وخت جاري وي :** ښه حمل او نقل هغه دي چې هر وخت جاري وي او په هغه کې خنډونه نه وي، تر څو کارو بار پرمختګ وکړي .چې ددي ځانګړتیاوو څخه موخه متواتر او دوقفي څخه پرته حرکت دي چې په نني عصر کي په زياته پيمانه تر سترګو کيږي .


**د ترانسپورت ډولونه:**

(الف) : د وچې ترانسپورت

(ب) : د اوبو (بحري) ترانسپورت

(ج) : هوايي (فضايي) ترانسپورت

**لمړي: د ځمکنی ترانسپورت ډولونه :**



(c) ketabton.com: The Digital Library

پــورتني شــکل د څمکنــی ترانســپورت هغــه ډولونــه دي چــي د نــړئ پــه هيوادونــو کــې پــه زياتــه کچــه تــر ســتر گــو کيــږي . او پــه ورځنــي ژوندانــه کــې انســانان د هغــو څخــه گټــې اخــلي . دغــه ترانســپورت چــه پورتــه ذکــر شــوي دي د انســانانو او توليــدي اموالــو پــه حمــل او نقــل کــې پکــار وړل کيــږي .کيــداي شي پــه ځنيــو وروســته پــاتي هيوادونــو کښــې د څمکنــی ترانســپورت ټــول ډولونــه موجــود نــه وي .لکــه زمــوږ پــه گــران هيــواد افغانســتان کښــې چــې د اور گــاډي ترانســپورت او نــل ليکــو پواســطه ترانســپورت شــتون نــه لــري .مگــر د نــړئ پــه پرمختللــو هيوادونــو کــې دغــه ترانســپورت ټول ډولونه تر سترگو کيږي او په ورځني ژوندانه کې ترې گټه اخستل کيږي .

((الــف ))- انســـان

هغــه اشــخاص چــي امــوال او اجنــاس د يــو ځــای څخــه بــل ځــای تــه انتقــال وي هغــه تــه جــوالی (قــلي ) وايــي . پــه ابتــدا کــې جــوالی داجناســو او اموالوپــه انتقــال کــې بنيــادي اهميــت درلــود. نــن ورځ هــم پــه نــړئ کــې داسي هيوادونــه شــته چــي د بــاربرداري کــار جــوالی کــوي مــثلا پــه چــين او جاپان کې ځيني داسي ځنگلونه شته چيرته چي د باربرداري يوازځيني ذريعه جوالی دی .

پــه ښــارونو کــې چيرتــه چــي د حمــل او نقــل بي شــماره وســائل موجــود دي . مگــر بيــا هــم پــه اورگــاډي کــې د اموالــو او اجناســو د بــارولو او ښــکته کولــو لپــاره د انســانانو څخــه کــار اخســتل کيــږ ي . کــه چــيري امــوال او ا جنــاس لــږ وي او نــږدي ځــای تــه انتقــالول وي نــو دهغــه لپــاره جــوالی بهترينــه وســيله ده ځکــه چــي پــه دې طريقــه کــې نــه يــوازي دا چــي امــوال زر رســيږي بلکــه مصرــف پــري هــم کــم راځــي جــوالی چــي کــوم امــوال انتقــال وي هغــه د وزن لــه مخــي هــم دومــره کــم نــه وي .پــه افغانســتان کــې يــو عــام مــزدور تقريبــا د (۱۰۰) کلــو گرامــو څخــه تــر (۱۵۰) کلــو گرامــه پــوري وزن په اسانی سره پورته کولي سي .

کله چي سامان دجوالی پواسطه انتقاليږي نو هغه ته يو کتاب ورکول کيږي چي په هغه کې لانـــــــــــــــــــــــدي خـــــــــــــــــــبري ليکـــــــــــــــــــــل شـــــــــــــــــــــــوي وي

۱- تـــــــــــاريــــــــخ

۲- دســــــــــــــامــــــــان تـفـصيل

۳- د وصــــــــــول کـونکـي نوم

۴- د مـزدور ( جـوالی ) نــــــــــــو م

کلــه چــي امــوال مربوطــه کــــــس تــه ورســيږي نــو هغــه پــه دې کــتـــــــاب کــې امضــاء کـــــوي .او بايــد هــير نکــړو چــي انســانان د حمــل او نقــل د ذريعــي پــه ډول د انســانانو د پيدايښــت سره جوخــت رامنځتــه شــوي .چــي لا حيوانــات د انســانانو پواســطه اهــلي شــوي نــه ؤ.او يــا پــه هغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونــو کــې چــې ترانســپورتي لاري نــه وي موجــودي او ترانســپورتي نــور وســائل موجــود نــه وو. رامنځته شوي پخپله انسانان دحمل او نقل ډیره ښه وسیله ګڼل کیده.

ګـــــټـــــې

د انسان پواسطه د اموالو انــــــــــــتقال لا نـــــــدې ګــــــــټـــــــې لــــري .

۱- ددي قسم ترا نسپورت لپاره هیڅ قســــــــــم لا رو جوړولو ضرورت نــــــــــشه .

۲- پـه هغـه سـیمو کـې چـې هلتـه د حمـل او نقـل بلـه وسـیله نـه وي ، نـو هلتـه دا وسـیله پـه اسـانی سره کار کولی شي مثلا په ګڼ ځنګلو او غرنیو سیمو کې.

۳- په نږدي سیمو کې د لږو اموالو د انتقال لپاره دا بهترینه وسیله ده

٤- دا ډول ترانســپورت د ځنــي کورنیــو د درآمــد وســیله ده چــي کــورنی خــپلي اړتیــاوي لــه همدغــه لاري پوره کوي .

نــیمګــړ تیـــاوي

د انسان پواسطه د حمل او نقل په استعمال کې لاندي ستونزي لري

۱- د انســاني ترانســپورت پــه واســطه د اموالــو انتقــال ډیــر بطــي او ســت وي او ډیــر زیــات وخــت په بر کې نیسي

۲-څرنګــه چــي انســان نشيــ کــولی چــې زیـــات وزن لرونکــي اجنــاس او امــوال پورتــه کــړي او د یو ځای څخه یي بل ځای ته انتقال کړي .

۳- ټــول انســانان د دي کــار لپــاره جوګــه نــدي او کیــداي شي د دغــه عمــلي پــه تــر سره کولــو کــې جسماني ناورین رامنځ ته کړي .

(( ب )) - د حیواناتو په واسطه ترانسپورت :

د نــړی پــه مختلفــو هیوادونــو کــې د اموالــو او اجناســو د انتقــال لپــاره د حیوانــاتو څخــه هــم کــار اخســتل کیــږي پــه حمــل او نقــل کــې د حیوانــاتو څخــه پــه لانــدي دوه طریقــو استفــــــــاده کیـــــــږي

۱- پـه لمـړی طریقـه کـې امـوال او اجنـاس د حیوانـاتو پـه مـلا بانـدي مسـتقیاً بـاریږي او بیـا مطلـوب ځای ته رسول کیږي او په مختلفو وسائلو لکه پړي ،پاران او نورو شیانو تړل کیږي

۲- پـه دوهمـه طریقـه کـې ګـــاډی پـه حیوانـــا تـــو پســـې تـــړل کیـــږي او بیـــا اجنـــاس او امـــــــوال پــــه ګـــــــاډی کـــې بـــاریـــــږي .او پـــه دي ډول تــــــر څــــو ســــوو کلـــو ګرامــــــــــه وزن انـــتـقــالـــولـــــې شي .او څو کیلو مترو پوري دغه انتقالات صورت مومي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-د بـار وړلـو پـه دې طريقـه کـې هـم د هـيڅ قسـم لارو جوړولـو تـه ضرورت نشـته او يـا سـړک جوړولو ته اړتياوې نه ليدل کيږي يوازې د پول نه شتون ځنې وخت خنډونه رامنځ ته کوي .
٤-پـه غرنيـو سـيمو کـې دا د انتقـال ډيـره بهترينـه وسـيله ده .لـيکن پـه دې کـې نيمګړتيـا دا ده چـې اموال په لږ مقدار کې انتقاليږي . او وخت هـم پـکې زيات مصـرفيږي.

نـيمګـړتـيا وې
۱-په لوړه پيمانه يا د ضرورت ډير شيان په حيوا ناتو باندې نه شي انتقاليداى .
۲-ډيرې ليرې مصافې د حيواناتو پواسطه په لنډ وخت کې نه تر سره کيږي
۳-اموال په ټاکلي وخت نه رسيږي .
٤-ليرې منطقو او ځايونو ته د انتقال په وخت کې د اموالو د خرابيدو ويره شته .
۵-حيوانات يوه اندازه خوراکي توکو ته اړتيا لري .

(( ج ))- د موټـر په واسطه ترانسپورت
دغـه قسـم ترانسـپورت د مسـافرو پـه ليږدونـه کـې همدارنګـه پـه لنـډو او ميانـه فاصـلو کـې د مـالونو پـه انتقـال کـې پـه کـار وړل کيـږي ددغـه ټرانسـپورت د پرمختـګ او ترقـې راز دماشـينونو صـنعت او د نفتـو را ايسـتل ګڼـل کيـږي پـه (۱۹۸٤م) کـال کـې پـه سرمايـه داري نـړۍ کـې(۳۰۰) ميلونـه ګړنـدي (تيزرفتـاره) مـوټر او ۹۰ميلونـه بـار وړنکـې موټرموجـود وو چـې زيـات شـميرددغو موټرونـو څخه په پرمختللو سرمايه دارو ملکونو کې موجوديت درلوده.
مـخ پـر ودې ملکونـو کـې مـوټرې ټرانسـپورت نسـبت پرمختللـو ملکونـو تـه يـو پـه لسـمه کـم وو پـه پـر مختللـو ملکونـو کـې د مـوټرو نـو تعـداد نسـبت اشخاصـو تـه زيـات دى چـې هلتـه هـر دوه نفـرو څخه تر پنځو نفرو پـــــــــوري يو موټـــررسيږي
امـامخ پـرودې هيوادونـو کـې يـو مـوټر د سـلو څخـه تـر (۱۱۰۰) پـوري نفـرو پـوري رسـيږي مـثلا پـه هندسـتان کـې هـر(۷٦۰) کسـانو تـه يـو موټررسـيږي.د شـمال پـه لويـه وچـه کـې د نـورو ټولـو هيوادونـــو څخـــه د امريکـــا متحـــده ايـــالات او کانـــاډا يـــوه نمونـــه داتمـــو بيلايزيشـــن (دماشينيونوخـاونـــدان) شمـيـــــرل کـــيده.د امريکـــا پـــه متحـــده ايـــالات کـــې زيـــات شـــمير ګړنـــدي مـــوټر چـــې (۱۱۸) ميلونـــه تـــه رســـيږي . او بـــاروړونکي موټرونـــه پـــه کـــې (۲۳) ميلونـــه موجـــود وو او پـــه جاپـــان کـــې دغـــه شـــميره دګړنـــدي موټرونـــو (۲۳) ميلونـــه او بـــاروړونکو موټرونـــو پـه کـې (۱۳) ميلونـو تـه رسـيږي .چـې د موټرونـو د درلـودو لـه مخـې دوهـم نمـبر هيـواد شـميرل کيږي .
د لويـديځې اروپـا د هيوادونـو څخـه فرانسـه ، فـدرالي المـان ، ايټاليـا او انګلسـتان د ډيـرو موټرونـو درلـــودونکي دي . همدارنګـــه ځينـــي انکشـــافي هيوادونـــه ( د ترقـــي پـــه لورګـــام ايښـــودونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونـه ) هـم یـو زیـات تعـداد مـوټر لـري د مثـال پـه ډول کویـت چـي دنـوي ترقـۍ پـه لـور یـو هیـواد شـمیرل کیـږي چـي هـر پنځـو کسـانو تـه یـو ګړنـدی مـوټر رسـیږي لـیکن ډیـر تعـداد ددغـو موټرونـو خاونـدان د نفتـو سرمایـه داران دي .دترانسـپورتي موټرونـو پرمختـګ دمـوټرو زیـات تولیـد د سرکونـو د جوړیـدلو او د مـوټر و خـدماتي سیسـتم ( تیلـو ټـانکونو او د مـوټرو د جوړیـدلو ورکشاپونو ) سره نه شیلیدونکي پیوند لري .

د سرکونـو عمـومي اوږدوالـی پـه (۱۹۸۰م ) کـال کـې ( ۱۹) میلونـه کیلـو میـترو تـه رسـیده . پـه داسي حـال کـې چـي د هغـه انـدازي دریمـه برخـه پـه شـمالي امریکـا او څلورمـه برخـه پـه غـر بي اروپـا کـې موجـود دي د سرکونـو اوږوالـی پـه جنـوبي امریکـا کـې تقریبـا څلـور برابـره د شـمالي امریکا څخه کم دي او په افریقا کې تقریبا څلور برابره د لودیځي اروپا څخه کم دي .

پـه دغـه انـدازه کـې د لویـو وچـو تـر مـنځ لاري ډیـر زیـات رول لوبـوي .چـي د هغـه څخـه یـوه لویـه لاره د بحـراطلس څخـه تـر بحـر الکاهـل پـوري او بلـه لویـه لار د لاتینـي امریکـا د صـحرا څخـه تیریـږي او افریقـا تـه رسـیږي چـي ډیـر زیـات شـهرت یـي مونـدلي دی . د مـوټرو یـوه لویـه لاره چـي د اروپـا پـه لویـه وچـه کـې چـي شـمال د جنـوب سره وصـلوي او هـم بالتیـک سـواحل د جنـوبي اروپـا سره یـو ځـای کـوي د جوړیـدو پـه درشـل کـې ده یـوه نـوي لاره چـي (٦٤٠٠٠)کیلـو میـتره اوږدوالـی لـري او د اسیـا پـنځـلس هیـوادونه سره یـو ځای کـوي د جـوړیدو پلان یي طرحه شوي دی.

پـه ډیـرو زیـاتو پرمختللـو هیوادونـو کـې مـوټري ټرانسـپورټ د مـالونو د حمـل او نقـل لـه مخـي ډیـر اهمیـت لـري د امریکـا پـه متحـده ایـالاتو او جمهـوري فـدرالي المـان کـې (1/5 ) څخـه تـر ( 1/4 ) حصي‌ــ پـوري او پـه انګلسـتان کـې (4/5 ) حصي‌ــ پـه انـدازه د مـالونو د لیـږدوني کـار ددغـه ترانسـپورټ پـه واسـطه تـر سره کیـږي د مـوټر ونـو د تعـداد محاسـبه د في کیلـو میـتر پـه حسـاب سره د سرکونـو د شـبکي پـه انـدا زه زیـاتیږي پـه انګلسـتان کـې پـه دي وروسـتیو شـل کلونـو کـې د موټروتعـداد یـو پـه دوه شـو اوس پـه هـر یـو کیلـو مـتر کـې تقریبـا (٦٠) مـوټرو تـه رسـیږي .د مـوټرو د ترانسـپورټ رول د هغـه شـیانو پـه لیږدونـه کـې چـي واړه وي او یـا هغـه محصـولات چـي ژر خرابیـږي او خپـل خاصـیت د لاسـه ورکـوي ډیـر زیـات دي د امریکـا پـه متحـده ایـالا تـو کـې (4/5) برخـي تـازه یـاد یخچـال ( 9/10 ) برخـي شـیر یـخ (3/4 ) برخـي رادیـو ګـاني ، تلویزونونـه ، د عکـاسي کمـري او (4/5 ) برخـه ګنـډل شـوي جـامي او قـالیني د مـوټري ترانسـپورټ پواسـطه انتقـالوي او همدارنګـه پـه انګلسـتان کـې ( 9/10) بـر خـي د مسـافرینو د مـالونو انتقـال د مـوټري ترانسـپورټ پواسـطه صـورت نیسي‌ــ . پـه پرمختللـو هیوادونـو کـې د شخصي‌ــ موټرونـو د تعـداد پـه کچـه کـې زیاتیدنـه ددغـه هیوادونـو پـه لویـو ښـارونو کـې د ښـار د هـوا د ککړیـدو ، د ډیـرو اوازونـو او د پـارکنګونو پـه زیاتیـدو سره پـه دغـه هیوادونـو کـې زیـاتو مشـکلاتو د رامنځتـه کیـدو سـبب وګرځیـد دغـي وضـعي پـه هغـه هیوادونـو کـې چـي زیـات مـوټر لـري لکـه امریکـا متحـده ایـالات ،کانـاډا ، لوکزامبـورک او جمهـوري فـدرالي المـان بانـدي ډیـره بـده اغیـزه وکـړه . چـي پـه نتیجـه کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يــوه نــوي پروســه د مــوټر جوړولــو شروع او داسي موټرونــه يــي جــوړ کــړل چــي انجــن يــي وړوکــی ، بي لــوگي او بي اوازه وو .ددي سره جوخــت برقــي مــوټرو سره هــم دلچســپي زياتــه شــوه . لــيکن د برقــي مـوټـــــرو تعــداد دومــره خــاص د پــام وړ نــه وو ځکــه چــي پــه ټــولـــه نـــــــړۍ کــي صــــرف ( ۵۰۰۰۰ ) برقــي موټرونــه موجــود وو. دمــوټر ترانســپورت چــي د ترانســپورت يــو ډول دی د انســانانو پــه انتقــال او همدارنگــه د زراعتــي توليــداتو پــه انتقــال او د تصــديود اموالــو پــه انتقــال کي ډير اهم رول لري .

هغــه هيوادونــه چــي بحــري ترانســپورت يــا اور گــاډي ترانســپورت نــه لــري نــو مــوټري ترانســپورت مــارکيټونو تــه پــه داخــل او خــارج کــي يــوازني وســيله گڼــل کيــږي .زمــوږ پــه گــران هيــواد چــي بحــري ترانســـپورت او اور گـــاډي ترانســـپورت نـــه لـــري صـــادرات او واردات ئي تقربـــاً (۹۰%) فيصـــده د موټري ترانسپورت پواسطه تر سره کيږي .

د موټري ترانسپورت ځانگړتياوې :

- دترانســپورت دغــه ډول دبشرـــ پــه ژوندانــه کــې ســتره لاســته راوړنــه گڼــل کيــږي او د اقتــصادي نقطــي نظـــره موټـــري تـــرانسپورت د مـــلي اقـــتـــصاد ټـولـــو ستکـــورونو پــه ځـــانـگـــړي ډول د صنـــــعت او زراعـــــت پـــــه ســکـتــــور کـــې د پـــــــام وړ بـدلـونـــــو ســبـــــب گـــرځـيـدلـي .
- دغه ترانسپورت هـــم د مسافـري او هــم د بـاربـري په برخه کې کارول کيږي
- د دغـــه ترانســـپورت پـــه وسيـــله اکـثـــره واړه مـالـونـــه انـتـقـــاليږي او ددغـــه مالونوتـــر مـطلوبـو ځايـونـو پوري د رسيدلـو ډيــره ښه وسيله ده .
- تـــر ټولـــو پـــه زړه پـــوري ځـانـگـړتـيـــا يـــي دا ده چـــي اوس مـهـــال د نـــړي اکـــثره خلـک دغـــه تـرانـسپـــورتي وسيـلـــي تـــه لاس رســـی لـــري او پـــه کـمـــه ســـر مـايـــه هـــر ســـړی کـــولـــي شـــي چـــي يـــو مـــو تـــر ولـــري . آن پـــه ځـنيـــو پـــرمـخـتـلـلـــو هيوادونـــو کې د نـفـوسو پـــه انـــډول مـــوټـــر مـــوجـــود دي .
- خـــو کـلـــه نـــا کلـــه د موټـــرو د ســـون د مـــوادو د نـرخـونـــو د جـگـــوالی او يـــا د هغـــوی پـــه وسيلـــه د چـاپـيـريـــال کـــکـــړوالی د دغـــه ډول تـــــــرانسپورت پـــه اړه تـشـويشـونـــه پيـــدا کـــوي چـــي لـــه همـدي امـلـــه بشرـــ پـــه دي لټـــه کـــې دي چـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمـــوټـــــرو لپـــاره د ســــــون ارزانـــه او چـاپـيـريـــال تـــه زيـــــان نـــه منونکـــــي مـــــــاده پـــيــــــداکــــړي .

- مسـافر د يـوه ځـاى څخـه بـل ځـاى تـه او د يـو ښـار څخـه بـل ښـار تـه پـه اسـانۍ او لـږ مصرـف د موټړي ترانسپورت پواسطه تګ او راتګ کولاى شي .
- د مـوټړي ترانســپورت اډي او تــم ځايونــه پــه هــر ځــاى کــي جوړيــدى شي او د دريــدو لپــاره کــم ځاى نسي .
- پــه ښــارونو ، بــازارونو او جــادو کــې پــه اســانۍ سره د ځمکــي پــه سر د سرکونــو د پاســه حرکــت کولائ شي ، چي نور ترانسپورت دغه ښتلتيا نه لري .

د موټړي ترانسپورت ګټي

مــــــــــوټـــــــري تـــــــرانسپــــــورت لانـــــــدي ګـتـــي لــــري.

داسي ســيمي چــي هلتــه د تللــو راتللــو بلــه وســيله نــه وي . نــو مــوټړي ترانســپورت بهترينــه وســيله .چــي پــه اســانۍ سره اموال ســيمو تــه رسـولی شــو کــه چــيري دمــوټړ ترانســپورت موجــود نــه وو نــو انسانان به د زياتو مشکلا تو سره مخامخ وو .

- د اور ګـــــاډي تـرانسپــــــورت او هــوايــــي تـرانسپــــــورت پـــــه نســـبت د موټـــــر تـــــرانسپورت کـــمــي ســـرمــايــي تــه ضــرورت لـــري .
- د امـــوالـــــو او اجـنـاســـو پـــه انـتـقـــال کـــې د نـــورو تـرانـسپـورتـونـــو پـــه مقـايســـه پـــه مـوټـري تـرانـسپـورت بـانـدي کـــم مـصـرف راځــي .
- د مـــوټـــــري تـرانـسپـــــورت بـــــل خـاصيـــــت دا دی چـــــي سـوداګـــــر د اموالـــــو اوا جناسوذخيـــــري تـــــه ضـــــرورت نــــــه لــــــــري .ځـکــــــه چــــــي کـلـــــه امـوالـــــو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجـــنــــــــــاسو تـــــه ضـــــــــــــروري شـــــي نــــو د فـابـــريـــكـــــــي څخـــه يـــــي راغـــــواړي .

• د مــوټــــري تــرانـــــسپورت قـيـمـــــت كــــم وي .نــــو هــــر سـوداګـــــر كـــــولـــــى شي چـــي د خـپلــــو امـوالـــــو او اجناســـو د انـتـــقال لپـــاره مـوټـــــر رانيسي.ليكـــن اورګــــــاډي او هــوايـي جـهاز اخستـــل نـــــــامـــمـكـــن دي .

• ســـوداګـــــــر چـــي هــــــر وخـــت وغـــــواړي كـولـــى شـــي چـــي خپـــل امــــوال او اجـنــــاس د يــــو ځــاى څخـــه بــل ځـــاى تـــه انتـقـــال كـــړي ځـكـــــه چــــي ددي تـرانـسپورت لـــپـــــاره د اورګـــاډي تـرانـسپـورت پـه شـان وخـت نـدى مـقـرر.

• د اورګــــــاډي د پټـــلـى پــــــه نـسبـــــــت د ســـــــړک پــــه جــــــوړولو كــــم مصرف راځـــــي

• د مـــــــوټـــــــــــــري تـــــــرانـسپـــــــورت پـــــــه واســـطــــــــــــــه امـــــــــــــــــوال او اجــــــنـــــــاس مـسـتـيـقـــاً خپـل ځــاى تــه رسـول كـيـــبږي .

((د)) - د اور ګـــــا ډي تـــــــرانـسـپـورت

دغـــه تـرانـــسپورت د پـټـلـــي پـــه واسـطـــه حـركـــت كـــوي ، او د لـومـــړ ي ځـــل لــــپاره پــه (۱۸۰۲) مـيلا دي كـال دتميچـارټ لخـوا ايجـاد شـو .لـه دي څخـه مخكـي د(۱٦) مـيلا د ي پيـړۍ پـه اوږدو كـې پـه انګلسـتان كـې د ډبـرو سـكارو پـه كـانونو كـې د كتـار پـه شـكل اسـتفاده كيدلـه او دا كتـار بـه د آسـونو پـه واسـطه كشـيده .لـه دي پخـوا پـه يونـان او روم كـې مـو جـود و.نـو ويـلي شـو چـې اورګـاډي لـومړى ځـل لپـاره (۱۸۳۰م) كـال پـه اوږدو كـې ماجسـترا ريواليـول كـې پـه كـار پيـل وكړ .او دغه مـهال د اور ګاډي سرعت په (۸۵) دقيقو كې (۱۲٤) كيلو متره واټن طي كاوه.

د لـــومړى ځــل لپــاره د هغــه بــار وړلــو انــدازه (۱۵۰) ټنــو تــه رســيده . او ســل (۱۰۰) كالــه وروسـته دغــه د بــار اوچتولــو انــدازه (۵۰۰) ټنــو تــه ورســيده. او لــه دي څخــه وروســته د اقتصــادي انكشــاف او تخنيكـــي پرمختـــګ پـــه اســـاس پـــه (۱۹) م پيـــړۍ كـــې د امريكـــا پـــه متحـــده ايـــالا تـــو كـــې د اور ګـاډي يـو نـوى ماشـين جـوړ سـو .چـي ددغـه ماشـين وزن (۱۰۵) ټنـو تـه رسـيده .او جګـوالى يـي (٤) مـتره و ، د بخـار پـه ذريعـه يـي حركـت كولـو چـي دومـره ګټـور او اقتصـادي نـه و،خـو د وخـت پـه تيريـدو سره يـو بـل نـوى مـا شـين منځتـه راغـى چـي دغـه ماشـين د تيلـو پـه واسـطه حركـت كـاوه ،همدغـــه مهـــال چـــي نـــوي اختراعـــات منځتـــه راغلـــل تخنيـــك او تكنـــالوژي پرمختـــګ وكـــړ .او د بخـار ماشــين لــه منځــه ولاړ.د هغــه ماشــين ځــاى د تيلــو ماشــين تــه پــاتي شو.څـــه مـــوده وروســـته د عصرـي پرمختـګ پـه اسـاس يـو برقـي ماشـين مـنځ تـه راغـى چـي د تيــلو ځـاى يـي ونيـوه.اوس پـه زيــاتو پــر مختللــو هيوادونــو كــي برقــي اورګــاډي كــار كــوي او ددغـــي اورګــاډي ښــه والــى نــورو د تيــلو او بــخار اورګاډو ته زيات دي.

بـرقـــي مـاشيــــن نـظـــر ډيـزلـــي مـــاشين تـــه (۲,۵) ځلـه كـم لګښـت كـو ي. او بـل ښـه والـى يـي دادي چــي ډيـــر كــــم وزن لــري او دغــــه اور ګــــاډي پـــه هغــه لارو حـركــت كـــولاى شي چـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلتــه د اوبــو موجوديــت هــم کــم وي. دغــه بــر قــي ماشــين نظــر پخوانيــو تــه ډيــر تــيز دي او همــــدارنګه دغــه ماشــين پــه اوســنيو شرايطــو کــې د زيــات اهميــت لرونکــي دي او چــاپيريــال لــــه چټــلۍ څخــه پــــــاک ساتــــــــي .ددغــــه مــــاشين لــرونـکــــي اور ګــــاډو څخه په هغو لارو کې استفاده کيږي چې پـه بـريښنـا سمبـال وي.
او دغــــه سمبــــالي لا ري پــــه اروپــا او متحـــده ايــــــالا تــــو کــــې دي مګــــر ځنــــي داسي هـــيــــوادونه شتــه چــــي د حمـــــل او نــقــــل لـــه دغـــو وسايلــــو څخــه بــــي بـــرخـــــي دي . هـغـــه هـيـوادونـــه عـبـــارت د دريـمـــي نـــړۍ لـــه هـــيـــوادونوڅخــــه دي .لـکـــه اسـيـــا (جـنـوبـــي او شرقــي اســـيا) او همدارنګـــه د افريقـــا لـــو يـــه وچــه. څرنګــه چــي پــه افغــانستــان کــې د اور ګـــاډي پـټـــلۍ هـــم مـوجـــوده ده چـــي لـــه حـــيـــراتـانـــو پـــيل او تـــر مــــــزار شـــريـــــف رسيــــــږ ي چـــي د انــــقــــــلاب څخــه دمــخــــه (د روســـــانو د راتــګ څــــخه دمخـــــه ) ګــــــټه اخــــــيستل کــــيده.پــه اوسنيــو تـــرانسپورتونو کــې د اور ګـــــاډي ترانســـپورت زيـــات ارزښــت لـــــــــري . د اورګـــــاډي تــرانسپـــورت د چـلـولـــو لپـــاره د اوســـپني لـــه پټـلـــــۍ ګـتـــــه اخســـتل کـــــــــيږي او هـــغـــه سيـــمي چــــي هـــواري وي پــه هغـه کــې د اور ګـاډي پټلـۍ کـم لګښـت غـواړي خـو پـه هغوسـيمو کـې چـي غرونـه لـــري دا پــــتلـــــۍ زيـــات لـــــګښت غـــــواړي. اوسـتونـــــزي هـــم لــــري پـــه کومـــو سيـمــــوکې چـــي دځـمکـوسطحـــه هـــواره وي پــــه هــــغــــو کــــې داور ګـــــاډي اهـمـــيت ډيـــر زيـــات دي او د ســـوداګـريـــزو مـــالونو د انتقـــال لپـــاره ښــه وســيله ده چـــي امـــوال او اجنـــاس خپــل ځـــــاى تـــه پـــه کـــــم لـګـښـــت او پــه اسانـــــۍ سره رسـوي. اور ګـاډی يـو ماشـين يـا انجـن لــري چـــي دي انجــن پسيـــ زيـــات بســونه تــړ ل کيــږي او د يـــو ماشــين يـــا انجـــن پــه واســطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشـول کیـږي . او پـه دې ډول پـه ډېـر کـم لګښـت پـه زیاتـه پیمانـه خلـک او تجـاراتي امـوال د یـوه ځای څخه بل ځای ته انتقالوي .

د اور ګاډي ترانسپورت ځانګرتیاوي

۱- د زیـات وزنـه مـــــالـــــو نـو د انـتـقـال لـپاره ښـه وسیـلـه ده

۲- د مـالـونـو او تـوکـو په انتقـال کې تـا کـلـي کـرایـه لـري .

۳- د سـفر پـر مـهـال چـي کـوم مـالـونـو تـه تـاوان رسیـږي . ذمـه واري یـي د اورګـاډي د تـرانسپورت په غـاړه ده

٤- ډیـرو لـیـرو سـیـمـو تـه د انـتـقـال ښـه وسیـلـه ده

٥ – د اورګـاډي په جـوړولـو کې ډیـري پـا نـګـي اچوني ته ضرورت دي.

٦- د حـمـل او نـقـل دغـي وسیـلي څـخـه یـوازي هغـه خلـک ګـټـه کـوي چـي هلته د اورګـاډي پـټـلۍ موجـوده وي .

۷- دغـه وسیلـه په هـر مـوسـم کې د ګـټي وړ ده.

۸- په ځانګړو لارو او پټلیو حرکت کوي چي ترافیک ئي مزاهم کیدا ئ نشي .

۹- مسافرین په اور ګاډي کې د ویده کیدو په مهال د چیرکټونو څخه ګټه اخستلي شي .

**د اور ګـاډي ترانسپورت ګـټـې**

۱- کرایـه کـې بچـت : کـه چیـري مـالونه د حـمل او نقـل پـه دغـه و سیـله انـتـقال شـي نـو پـه کرایـه کـم لـګـښت راځـي ځـکه چـي د ډیـرو ډېـو لـپاره یـوادځي یـو انجـن استعمـالیږي.

۲- **دایـوه سـا تـنـدو یـه وسیـلـه ده** : بلـه ګـټـه یـي دا ده چـي د پیـښوامـکان پـه کـې ډیـر دی او کـه چـیري حـادثـه واقـع شـي نـو مـال بـیا هـم تـر ډیـره حـده مـحفـوظ سـاتـل کـیږ ي .

۳- د اعـتماد وړ وسـیله ده: د اورګـاډي تـرانسپـورت د مالـونـو د انتقـال لپـاره د اعـتمـاد وړ وسیلـه ده .ځـکـه چـي پـه لار کـې د خـرابـیدو خـطـر ډیـر کـم دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤- په پراخوالی کې اسانتیاوي: یوه بله گټه یې دا ده چې کله چیري یو شی په ډیر زیات مقدار سره له یو ځای څخه بل ځای ته انتقالیږي.نو د اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

گـــاډي لــه انــجـــن سره زيــاتـــي ډبـــي تـــړل كــــيږي .چـــي پـــه نـــــورو وسايــــلو كــې دغـــــه پــــراخـــوالـــى نشته.
۵- ټـا كلـــــى وخـــت او ټاكلــــي كـــرايه : د حـــمل او نـــقل دغــه وسيــــله پــه خـــپل وخـــت بانــدي حـــركت كــوي او ټاكلــــي كـــرايه لـــــري ســــوداگرو تــه معلـــومات كــــيږي چــــي په څــومره وخـت او څـومره كــرايه نومــوړي مال ته رســيږي.

د اور گـــاډي تــرانسپــورت نيـمگړتيـاوي
د اور گاډي تـرانسپورت لا ندي نيمگړتياوي لري
۱- پــه لښــگت كــې زيــاتوالى: داور گــاډي سټيشـــن تـــه د مـــال وړل او راوړل دمـــوټراو نـــورو وســـايلو پـــه واســطه كيــږي .چـــي زيـــات لگښـــت تـــه ضرورت لـــري كــوم چـــي د حمـــل او نقـــل وســـايلو كـــې زياتوالى منځته راوړي .
۲- كـــوچنى ســـيمي ددي اســـانتياوو څخـــه بي برخـــي دي . ځكـــه چـــي د اور گـــاډي پټلـــى ټولـــو لويـــو ښارونو پوري تړلي دي ځكه هر كلي او بانډي ته دپټلى غـــزول امــــكان نلــــري
۳- د مـــال د ناوختـــه رســـيدو امكـــان : پـــه ځينـــو وختونـــو كـــي د مـــال د ناوختــه رســـيدو امكـــان زيـــات وي ځكـــه چـــي اورگـــاډى زيـــاتي ډبي لـــري .چـــي د خرابيـــدو پـــه صـــورت كـــې مـــال نـــاوخته رسيږي. او يا د بـل اورگـــاډي سره د كـــراس كيــدو په صـورت كې نـاوخته كـيږي.
٤- زياتــه سرمايـــه : د اورگـــاډي پـــه جوړولـــو او د پټلـــى غزولـــو كـــې زيـــاتي سرمـــايي تـــه ضرورت ليـــدل كيـــږي . او پــــرمـــــــختيايي هيوادونـــه نشيـــ كـــولا ي چـــي دغـــه ساحـــــه سرمايـــه گـــــــــذاري كړي .
۵- د مـــال د خرابيـــدو ويـــره : كلـــه چـــي مالونـــه پـــه اورگـــاډي كـــې اچـــول كيـــږي او يـــا ورڅخـــه بيرتـــه راكـــوزيږي نـــو كـــارگران پـــه دغـــه وخـــت كـــي اختيـــاط نـــه كـــوي نـــو د نـــازكو مـــالونو د خرابيـــدو ســـبب گرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موټر ترانسپورټ او اورګاډي ترانسپورټ تر منځ .توپیرونه

| ګڼه | توپیر | دموټرترانسپورټ | اورګاډي ترانسپورټ |
|---|---|---|---|
| ۱ | سـړک جوړول | لا ریو ، بسونه، باربري ، لپاره نه یوازي دا چي په امکان سره جوړیږي بلکي لګښت هم ورباندي کم راځي | د اورګاډي د پټلۍ جوړول ډیر ستونزمن کار دي او لګښت پري هم زیات راځي په غرنیو او شګلنوسیمو کي غځول ناممکن دي |
| ۲ | ټاکل شوی وخت | د موټرو ترانسپورټ لپاره وخت نه دی ټاکل شوي. | داورګاډي درسیدواوروانیدولپاره وخت ټاکل شوی دي |
| ۳ | د توکو ځرنګوالی | هغه توکي چي ثابت نه وي لکه میوي ، ترکاري ، او داسي نور ورلو لپاره دموټر ترانسپورټ ښه وسیله ده. | دثابتو شیانو د وړولو لپاره اور ګاډي ترانسپورټ ښه وسیله ده. |
| ٤ | واټن (فاصله) | د لږ مال او کمي فاصلي د لیږدولو لپاره د موټر ترانسپورټ ګټور دي | د لري واټن او زیات وزن د انتقال لپاره د اور ګاډي ترانسپورټ مناسبه وسیله ده |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | پــه مســتقيم ډول حــر کــت | پـه تـر ک او ويگـن کـې مــال پــه مســتقيم ډول بـاريږي او خپـل منـزل تـه رسيږي. | پــه اورګــاډي کــې مــال اول پــه ستيشـن کـې ښـکته کيـږي او بيـا پـه مـوټرو او لاريـو کـې خپـل منـزل تـه رسيږي |
| ٦ | کــرايــه | د مــوټرو کرايــه مقــرره نــه وي.بلکــې د وخــت پــه تعين سره ټاکل کيږي | د اورګــاډي ترانســپورت کرايــه مقــرره وي.او ســوداګر تــه معلومــه وي چــې څــومره لګښــت وربانــدې راځي |
| ۷ | د نقصــان ذمــه واري | د ســفر پــر مهــال د مــوټر څښــتن د مــال د نقصــان ذمه وار نه وي. | پــه اورګــاډي کــې د مــال نقصــان د مسول شخص په غاړه وي. |

(( هـ )) - د نل ليکو پذريعه ترانسپورت

نــل ليکــي هــم د ترانســپورت يــو مهــم جــز تشــکيلوي چــي ددي پــه ذريعــه سره د انــرژي قــواوې (نفــت ،تيــل ،او ګــاز ) د يــو ځــاى څخــه بــل ځــاى تــه د خرخـولاو لپـاره او يـا هــم هغــو ځــايونو تــه چي نومورې قوه په مصرف رسيږي انتقاليږي .

لکــه څرنګــه چــي اکــثره د انــرژي د قــوي داســتخراج منــابع او خــن ځايونــه ،تصــفيه خــاني يــو د بــل څخــه پــه لــري فاصلــه کــې موقعيــت لــري نــو د همــدي نــل ليکــو پواســطه د اســتخراج منــابع لــومړی لــه تصــفيه خــانو سره وصــل او وروســته لــه دي چــي لازمــي مراحــل د پروســس پــري اجــرا شي .هغــو ځــايونو ښــارونو او کارخــانو تــه چــي نومــوړي انــرژي پکــي کــارول کيــږي انتقــاليږي .نــل ليکــي نــه يــوازي داچــي پــه داخــل د ملــک کــې د انــرژي دانتقــال يــوه بهــتره اقتصــادي او محفوظــه وســيله ده .بلکــې د ملکونــو تــر مــنځ د انــرژي د تجــارت پــه برخــه کــې هــم مهــم او اســاسي رول لوبــوي .زمــوږ ګــران هيــواد افغانســتان کــې هــم ددي ډول ترانســپورت نمونــه وجــود لــري چــي د هغــه پــه ذريعــه د شــبرغان طبعــي ګــاز د مزارشريــف ښــار دکــود و بــرق فــابريکي تــه انتقــالوي .پــه ابتــدا کــې کلــه چــي د شــبرغان د طبعــي ګــازو منبــع د شــوروي اتحــاد لخــوا د دولــت پــه موافقــه کشــف او اســتخراج تــه امــاده شــول .نــو د نومــوړو ګــاز و زياتــه برخــه پــه ډيــر ټيــټ قيمــت سره شــوروي اتحــاد تــه صــادريدل پــداسي حــال کــې چــي شــوروي اتحــاد پــه خپلــه د طبعــي ګــاز وســيع او پراخــه منــابع لــرلي او نــورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکونو ته به یي په لوړ قیمت سره صادرول .بلاخره د سیاسي تحولاتو په نتیجه کې د نوموړو گاز پایپ لا ئن قطع او په شوري اتحاد باندي گاز بند شول.

د نل لیکو گټې

◄ نل لیکي تر ډیره حده د نفتو او گازو د انتقال لپاره استعمالیږي . خو اوس مهال د دغو نل لیکو په وسیله ډول ډول مواد په مختلفو طریقو انتقالیږي .

◄ د انتقال ډیره محفوظه او ارزانه لاره او دچاپیریال پاک ساتلو له پلوه مناسبه لار گڼل کیږي.

◄ نل لیکي د حمل او نقل د اعتماد وړ وسیله ده او یوازینۍ وسیله ده چي د موسمي حالاتو څخه نه متاثره کیږي .

◄ نل لیکي د حمل او نقل تیزه (باسرعته) وسیله ده او په دې سره مایع اجناس او گاز په اسانی سره د یو ځای څخه بل ځای ته انتقالیدائ شي.

◄ نل لیکي په اسانی سره غځیدلی شي او ددي لپاره د هیڅ قیسم لارو او سرکونو جوړولو ضرورت نشته.

## دوهم فصل

### د حمل او نقل وسایلو انتخاب

لکه څرنگه چي پوهیږو د بار او وړني وسیلي بیلا بیل ډولونه لري .او له هغوی څخه یي هر یو ځانگړي شیگڼي لري .نو په دې اساس د حمل او نقل د وسایلو انتخابول او هغه خبري چي مخکي یادي شوي باید په ذهن کې وي چي ځیني یي په لا ندي ډول د ي .

۱- کرایه : کله چي یو سوداگر له یو ځای څخه بل ځای ته مال وړي نو لومړی فکر کوي چي مال د کومي ذریعي په واسطه انتقال کړي .نو سوداگر باید هغه وسیله انتخاب کړي چي کم لگښت ولري . نه دا چي داسي وسیله غوره کړي چي زیات لگښت پري راشي .په دي خاطر چي نه یوازي دا چي زیات لگښت پري راځي بلکي گټه یي هم کمیږي .

۲- رفتار : له یو ځای څخه بل ځای ته د مال انتقال کي رفتار هم په نظر کې نیول کیږي د کومو شیانو چي د لمنځه تلو امکان زیات وي باید په سرعت سره انتقال شي . او له تیز رفتاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسـیلو څخـه ګټـه واخسـتل شي کـه څـه هـم لګښـت پـري زیـات راځـي .او هغـه شـیان چـي ثابـت وي نو باید کم مصرفه او سستو و سیلو په ذریعه نقل شي

۳- د مـال سـاتنه : داموالـو د لیږدولـو پـه وخـت کـې د مـال حفاظـت او سـاتنه هـم پـه نظـر کـې ونیـول شي ځکـه کـه چـیري پـه لار کـې مـال یـا توکـو تـه کـوم نقصـان ورسـیږي نـو سـوداګر د زیـات تـاوان سره مخـامخ کیـږي . نولـه همـدي کبلـه سـوداګر بایـدداسي وسـیله غـوره کـړي چـي د مـال سـاتنه یي وشي .

٤- پـه وخـت رسـیدل : سـوداګرباید د خپلـو مـالونو د وړني لپـاره داسي وسـیله غـوره کـړي چـي هغه وغواړي مال د رسیدو ځای ته په خپل ټاکلي وخت ورسوي .او په لاره کې ځنډ نه شي .

د کاروبار د پرمختګ لپاره د ځمکنی ترانسپورت اهمیت

د یـو هیـواد پـه وده کـې ځمکنـی ترانسـپورت زیـات اهمیـت لـري پـه هغـه هیوادونـو کـې چـي د حمـل او نقـل وسـیلي یـي تیزرفتـاره وي پـه همغـه انـدازه لـه اقتصـادي او سـیاسي پلـوه مخکـي تلـلي وي . خـام مـواد کارخـانو تـه او تولیـد شـوي شـیان مسـتهلکینو تـه پـه خپـل وخـت رسـوي . لانـدي ټکي د کاروبار په اهمیت کې زیات رول لري .

♥ انکشـاف (وده ) : کـه دیـو هیـواد انکشـاف کـرني یـا صـنعت پـوري تړلـی وي . نـو د مـالونو پـه انتقال کې ترانسپورت زیات اهمیت لري.

♥ پـه تقاضـا ( غوښـتنه ) کـې زیـاتوالی : څـومره چـي تولیـد شـو مـالونو تـه د مسـتهلیکینو زیاتـه تقاضـا وي پـه همغـه انـدازه نومـوړو سـیمو او بـازارونو تـه د توکـو رسـول اړیـن دي چـي ترانسـپورت په دي ساحه کې زیات اهمیت لري .

♥ د خـامو مـوادو رسـول : دا چـي خـام مـواد تولیـدي کارخـانو تـه رسـول ضروري دي ، کـه چـیري لـه مـوږ سره تیـز رفتـاره وسـیلي موجـودي نـه وي نـو مـوږ پـه اسـا نـی سره خـام مـواد کارخـانو ، او تولید شوي توکي مستهلکینو ته نه شو رسولی .

♥ د تولیـد شـویو شـیانو انتقـال : د بـار او وړني دغـه وسـیلي پـه سـوداګري کـې ځـانګړي اهمیـت لـري .کـه داخـلي سـوداګري وي او کـه بـین الملـلي سـوداګري وي نـو لـه همـدي وجهـي لـه یـو ځای څخه بل ځای ته د مال انتقال په اسانی سره صورت مومي

د طبعـي زیرمـو څخـه ګټـه : د بـار وړني د وسـایلو پـه موجودیـت کـې مـوږ د طبعـي زیرمـو څخـه ښه ګټه اخستلای شو او په اسانی سره یي تولیدي دستګاو ته رسولای شو .

پـه تولیـد کـې زیـاتوالی : ځمکنـی ترانسـپورت د وړلـو او راوړلـو ښـه وسـیله ده .هغـه سـیمي چـي ځینـي امـوال او اجنـاس پـه کـې پـه کـم مقـدار پیـداکیږي او یـا نـه پیـدا کیـږي نـو د ځمکنـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانســـپورت پــه وســيله كــولي شــو چـــي د ضرورت وړ امـــوال او اجنـــاس نومـــوړي ســـيمو تــه انتقـــال كړو.

د كـــار زمينـــه : د ســـوداگري پـــه وده كـــې د كـــار او وړني وســـيله ډيـــره مهمـــه ده د اموالـــو وړل او راوړل د يـوي ســيمي څخــه بــلي ســيمي ، بــازارونو او پــه دغــه ســاحه كــې د وگــړو اســتخدام د حمــل او نقل په ذريعه كيږي .

د مزدورانــو د كــار ځــاى تــه انتقــال : پــه هغــه ســيمو كــې چــي د مزدورانــو كــار غوښــتنه زياتــه وي نــو د ترانسپورت د وسيلو په ذريعه مزدوران انتقاليږي .

د اموالــو د قيمتونــو ټيټــوالى : د اموالــو د قيمتونــو پــه ټيټــوالي كــې ترانســپورت ډيــر مهــم رول لوبــوي . د تيــز رفتــاره ترانســپورت پــه وســيله امــوال پــه كــم لگښــت سره بــازارونو تــه پــه اســانى سره انتقــاليږي

.

د في نفــر پــه عايــد كــې زيــاتوالى : د تيــز رفتــاره ترانســپورت پــه وســيله د يــو هيــواد پــه توليــد كــې زياتوالى راځي چي د سړي سر په عايد كې هم زياتوالى راځي

پــه نرخونــو كــې ثبــات : د تيــز رفتــاره ترانســپورت پــه وســيله پــه توليــدي پروســه كــې او دغوښــتني پــه زياتوالي سره د اموالو په نرخونو كې ثبات رامنځ ته كيږي .

♥ اســـتخدام : د اســـتخدام پـــه برخـــه كـــې ارزښـــت لـــري ځكـــه يـــو شـــمير زيـــات كســـان پـــه ترانسپورت كې په خدماتو بوخت وي او د ډيرو خلكو لپاره ئې د كار زمينه برا بره كړيده .

د ځمكني ترانسپورت اهميت په ملي اقتصاد كې

څرنگــه چـــي انســـان يـــو اجتماعـــي حيـــوان ( Social Animal ) دي او هڅكلــه خپــل ضرورتونــه پخپلــه پــه انفــرادي ډول نشيــ پــوره كــولاى .نــو ددي اړتيــا پيــدا كيــږي تــر څــو د نــورو انســانانو سره اړيكـــي پيـــدا كـــړي . نـــود همدغـــه ضرورت لـــه املـــه د بشرـــاړيكي نـــه يـــوازي دبشرــــ سره بلكـــي پـــه طبيعت كې د ټولو موجودو منابعو او امكاناتو سره اړيني بريښي .


دكانيــاتو طبيعــي جوړښــت پــه خپلــه ددي تقاضــا كــوي چــي انســانانو د خپلــو اړتيــاوو د رفــع كولــو لپــاره لــه يــوي ســيمي څخــه بــلي ســيمي تــه پــه حركــت او د اجناســو پــه انتقــالاتو لاس پــوري كــړي . ځكــه بشرـ د خپلــو ضرورتــو نــو د پــوره كولــو پــه خــاطر د ځــان لپــاره د اړينــو ( توليدشــوو ) اجناســو د لاســته راوړلــو پــه لټــه كــې وي چــي د توليــد لپــاره ضروري توليــدي عوامــل پــه طبيعــت كــې پــه پراگنـــده ډول پراتـــه دي . او ددي عواملـــو سره يـــو ځـــاى كولـــو لپـــاره يـــو لـــړ هلـــو ځلـــو تـــه ضرورت دى چـــي پـــه دي لـــړ كـــې انســـان مجبـــور دى تـــر څـــو لـــه يـــوي منطقـــي څخـــه بـــلي منطقـــي تـــه پـــه حركـــت كې شي .

څرنگـــه چـــي پـــه مـــلي اقتصـــاد كـــې د مملكـــت پـــه ســـطحه اقتصـــادي مســـايل پـــه عمـــومي ډول څيـــړل كيـــږي او د بنســـټيزهدف پـــه ډول د هيـــواد پـــه كچـــه د عوايـــدو د زيـــاتوالي او د خلكـــو د ژوندانـــه د ســـطحي د لـــوړوالي هڅـــه كيـــږي . نـــو ددي هـــدف د ترلاســـه كولـــو لپـــاره د مـــلي اقتصـــاد د هســـتي پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپيره مختلف سکتورونه فعالت کوي د ملي اقتصاد په کچه تل کوښښ کيږي چي تر وسه وسه په ملک کې موجود وسايل او طبيعي او غير طبعي منابع د کار وسايل او معدنيات په کار واچول شي او له هغو څخه په اعظمي ډول د اقتصاد د قوانيو مطابق ګټه واخستل شي .

مناقلات د ملي اقتصاد يو عمده برخه جوړه وي او د ملي اقتصاد د نورو سکتورونو سره نيغ په نيغه اړيکي لري چي دغه اړيکي په لا ندي شکل کې ښودل کيږي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورتني شکل له مخې معلو مېږي چې ترا نسپورت د ملي اقتصاد يو مهم سکتور دی .او ملي اقتصاد کې ډير اهميت لري
ترانسپورت د يو هيواد په انکشاف او پرمختګ کې مهم رول لري چې د نورو سکتورونو ترڅنګ بايد دغه سکتور ته هم پاملرنه وشي خصوصا د ځمکنی ترانسپورت په برخه کې ځکه چې دغه ترانسپورت د يو هيواد په پرمختګ کې مهم رول لوبوي.او سرمايه هم کمه غواړي .

**پايلي يا ((نتيجه ګيري)) :**

۱- ددي موضوع څخه موږ په ځانګري ډول داسي نتيجه لاسته راوړو چي ټول هغه مالونه او توکي چي په توليدي پروسه کې توليديږي په خپل ټاکلي وخت او ټاکلي کرايي سره د مستهلکينو مخ ته وړاندي کيږي . نو په دې کې ځمکنی ترانسپورت خاص اهميت لري
۲- لکه څرنګه چي مخکي ياد شول چي ځمکنی ترانسپورت د حمل او نقل نورو وسايلو ته ارزانه او کم لګښته وي نو سوداګر د خپلي ګټي د لاسته راوړني په خاطر دغه وسيله غوره کوي .تر څو خپل لګښتونه راکم کړي. او په زياته اندازه ګټه تر لاسه کړي .
۳- د ساتني له مخي د مالونو او تو کيو په انتقال کې د مال ساتل يو اساسي شرط دی .چي د حمل او نقل دغه وسيله د ساتني يوه مناسبه منبع ګڼل شوي .
٤- له دي موضوع څخه داسي نتيجه اخستل کيږي چي د حمل او نقل دغه وسيله د زياتو مصارفو او لګښتونو غوښنونکي دي ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته پاتي هيوادونه نشي کولای چې په دغه ساحه کې پانگه اچونه وکړي ځکه چې زيات لگښت غواړي .

**وړانديزونه :**

(الف ) : زموږ گران هيواد افغانستان کې بايد د ځمکنى ترانسپورت لپاره مجهزي لاري وغځول شي . ترڅو خلک وکولای شي چې د حمل او نقل د دغو وسيلو څخه خپل ضرورتونه پوره کړي .

( ب ) : څرنگه چې ځمکنى ترانسپورت په اقتصادي وده کې مهم رول لري نو د دولت څخه هيله کوو چې دغه اقتصادي انکشاف څخه زموږ هيواد هم برخمن شي .

( ج ) : د نوي تکنالوژي د پرمختگ په اساس بايد داسي ځمکنى ترانسپورت رامنځ ته شي چې د وگړو ،مالونو او توکيو د لا زموسهولتونو لرونکي وي

( د ) : دولتي او خصوصي سکتورونه بايد دي ته وهڅول شي چې په افغانستان کې په دغه سکتور کې پانگه اچونه وکړي

( هـ ) وړانديز دا دي چې افغانستان په وچه کې راگير هيواد دى نو د تجارت د پرمختگ لپاره بايد ددي ترانسپورت څخه گټه واخستل شي او په پراخه توگه سرکونه او د ريل پټلۍ جوړي شي .

**له لوستلو څخه مو مننه کوو ،**

**د هيواد د يو زابلي بچي په حيث مې دا علمي تحفه قبوله کړی !**

**د زابل د ميرويس خان نيکه د لوړو زده کړو مؤسيسې استاد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مأخذونه

( کامبیز ) غلام دستگیر　　　جغرافیه اقتصادي کشورهای

(عمر ) بشیراحمد　　　سرمایه داري و روبه انکشاف

( زرمتي ) محمدنبي　　　( پوهنتون کابل )

♥ ( خادم ) حسین　　　اوصول تجارت ۲۰۰۶م

♥ ( پوهاند تڼیوال ) ظریف افغانستان صنعتي جغراقیه ۱۳۳۵هـ ش

♥( پوهنیار صمیم ) سیدداؤد لیکچرنوټ ۱۳۸۵هـ ش

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**